AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۱/۰۱/۱۵

# ستا وجود کې

څه ښکلا او څه جذبه ده ستا وجود کې
کوم کشش او همهمه ده ستا وجود کې

تا ته وایم، ته یې نه مني دلبره
شوم سرسام، څه هلهله ده ستا وجود کې

څه ښه ښکاري، ځان د تا وجود کې وینم
پوه پرې نه شوم څه آئنه ده ستا وجود کې

مینه ناکه راته ښکارې، زه داده یم
ټول جهان یې، ګنجینه ده ستا وجود کې

هره خوا چې کړمه مخه ګنهګار شم
راشم پاک شم، څه توبه ده ستا وجود کې

۲۰۲۰/۱۱/۲۴





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ